۱-دناټويوسترقوماندان،په افغانستان کې دبهرنی ځواکونوپر ناکامی باندی اقرارو کړ :
۲- دانګليس دپارلمان استازی وايی :په افغانستان کې شرايط پيچلی اوستونزمن سوی دی !
**۳- دانګليس اوامــريکا دقـــــومـــــاندانو سردرګمی دافغانستان په پلندئ (باتلاق )کې !**

**۴- يــوی الـــمانــــــــی ورځــــپاڼــــــی وڅـــــيرل :**
**په افغانستان کې دناټواوه کلنه بی ګټی جګړه،**
**اودافغانانوبی باوری پرلويديزوالوباندی !**

۱-دناټويوسترقوماندان،په افغانستان کې دبهرنی ځواکونوپر ناکامی باندی اقرارو کړ :

دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه
ژباړونکی : عـزيـزاحمدخوارمل

دشمالی اتلانتيک نظامی تړون «**ناټو**» **يوسترقوماندان اقرار وکړاووی ويل چې په افغانستان کې دبهرنی هيوادونونظامی عمليات ناکامه سوی اودغه هيوادونه وخپلوموخوته ندی رسيدلی .**



دايران دايرنا دانټرنيټی خپرونی ديوراپور پربنسټ : جنرال «جان کرادوک» چې دناټو دنظامی تړون يوسترقوماندان اوجګپوړی چارواکی دی انګليستان ته يې سفر کړی دی ،ده په دی هکله يې وويلی دی : په افغانستان کې دناټوماموريت،دځواکونودنشته والی په دليل او دغړوهيوادونودپرومحدوديتونودتحميلولو دکبله دخپلو ځواکونودعملياتو دپاره په افغانستان کې د ورانيدوپه حال کې دي . دغه امريکائی جنرال تيره اونی دانګلستان دسلطنتی مرکزی ګډوځواکونو په موسسئی کې په لندن کې يې وويل : دناټودنظامی سازمان غړي هيوادونه وافغانستان ته دځواکونوپر استولوپرخپلووعدو اوژمنوباندی يې عمل ندي کړي اودغه موضوع متزلزله سياسی اراده په دغه هيوادونوکښې په ښکاره توګه بربنډه کوي .
جنرال جان کرادوک وويل : دغه دوه (تزلزل) اوسياسی نا باوری دافغانستان په جګړي کې دبهرنيونظامی ځواکونودنه پرمخ تګ سبب ګرځيدلی دی اوپه (۲۱) يووشتمی پيړی کې دناټودغړوهيوادونو اړيکی يې تر پوښتنی لاندی راوړی دي .

**جان کرادوک په دی هکله زیاتوی : موږهمدااوس مهال ددی هیوادونودمیشته ځواکونودنظامی عملیاتوپرډول خبری کوو،اودناټودغړوهیوادونو تراویا (۷۰) ډیر داعلان سوی محدویتونواواخطارونوسره مخا مخ یو . دناټودغه سترقوماندان وویل : کیدی سی چې اوس داهسی یې توصیف کړوپه افغانستان کې دغه نظامی جوړښت دوخت اوځای دلړلید پربنسټ سره شلېدلی دی او ووایو : دبیلګې په توګه جګړه ایزه ځواک دمخدره توکو په وړاندی دافغانستان ددولت دنده ده ،مګردافغانستان دولت دمخدره توکودقاچاق په وړاندی په مبارزه کې واک نلري . دی وایی : په افغانستان کې دمخدره توکودکرهنی اودقاچاق څخه د لاس ته راغلو پیسوپه وسیله وسله وال ډلی په نظامی عملیاتونو اوغلچکی یرغلونوکې کار اخلی اودغه یوه سرطانی غده ده ،اوهمدارنګه په افغانستان کې مالی فساد دقانونی تجارت په ورانیونکی نږدي اړیکی سره لري .**

۲-دانګلیس دپارلمان استازی وایی :په افغانستان کې شرایط پیچلی اوستونزمن سوی دی !



دانګلیس دپارلمان دمحافظه کارګونداستازی وویل په افغانستان کې په دا ځوروستیومیاشتوکې شرایط ډیر پیچلی اوستونزمن سوی دی ، چې حتی امریکائیان هم دهمدی موضوع په هکله همداشان وایی .
دانګلیس دپارلمان غړی دمحافظه کارګونداستازی "دیوید دیویس" په لندن کې دانګلیستان دتلویزون دڅلرم چینل سره په خبراتروکې یې وویل : په افغانستان کې په دا ځوروستیومیاشتوکې شرایط ډیر پیچلی اوستونزمن سوی دی،دطالبانوډلي دتګ اوراتګ ډېری لاري یې تړلی دی اویوازی یوڅو اصلی لاري پاتی دی اوبس .
ده په دی هکله وویل : په افغانستان کې شرایط بدتره سوی او همدارنګه امریکائیان هم دغه مسئله منی اوتاییده وی ،دی وایی که غواړو چې په افغانستان کې په جګړی کې بری ترلاسه کړو،نو ویوی نوې اشتراتیژې ته اړتیا لرو.
دیویس پخواتر دی په محافظه کار ګوند کې دهیواد داخلی چارومسؤول ووپه دی اړه یې وویل :دانګلیس دځواکونوقوماندان هم دافغانستان دجګړی دپاره دیوی نوې کړنلاری په هکله وویل ،دانګلیس نظامی ځواکونه هم په دی ښه پوهیږی،چې په افغانستان کې دجګړی دګټلواودبریاودلاسته راوړلودپاره لازمه ده چې په دی هیواد کې ددوي کړنلاره بدلون وموموی .
دیوید دیویس په افغانستان کې دبهرنی ځواکونودشتون اودپاته کیدوپه هکله یې په

توضیحی توګه وویل :که دافغانیتان څخه ووځو،تولہ وژل کیږی ،اوډیر آخ اوډب به رامنځته سی ،اوګواښونه نورهم زیاتیږی ،په نتیجه کښې ډیرنورځواکونه بایدپه افغانستان کې ځای پرځای سی اویوبل ښه دولت په افغانستان کې وکارکولوته رامنځته سی .
دغه دمحافظه کار دګوند استازی زیاتوی : یو دهغوپرابلمونوڅخه چې په افغانستان کې شته دي ، دافغانستان ددولت په کمزورتیا اوضعیفوالی پوری اړه پیداکوی .
"جان دیویسون" دانګلیس د "کریسچن‌اید" (Aid Christian ) دخیره موسسی غړی هم دانګلیس دتلویزیون دځلرم چینل سره په خبراتروکې دافغانستان دامنیتی اوضاع اوحالاتوپه هکله وویل : په افغانستان کې په تیروشپږومیاشتوکښې امنیتی شرایط دښه حالت څخه مخ پرویجاړیدواوښتی دی اوسیمه ایزمرسته رسونکی اوکارکوونکی هم تښته ول کیږی . ده ددی پوښتنی په خواب کې چې ایا په افغانستان کې داهسی پیښی پرنړیوال مرسته رسوونکوباندی ددی هیواد څخه دوتلودپاره پردوي باندی فشار راوړل کیږی ترڅو دوي ددی هیواده څخه ووځی، ده وویله ډول ډول موخې ددی کارونودترسره کولودپاره سته دی دبیلګې په ډول دیوشمیر سړی تښتوونکوموخی دپیسواخیستل اولاسته راوړل دی اودیوشمیر نوروموخی دخپل نفوذ اودواک دپراختیا دپاره دغه چاری ترسره کوی .
دیویسون وویل : په افغانستان کې شرایط هره شیبه راز راز بدلون مومی .

**۳-دانګلیس اوامریکا دقوماندانو سردرګمی دافغانستان په پلندی (باتلاق )کې !**

**په لندن کې دجګړی ضدسازمان یوغړی په افغانستان کې دانګلیسی اودامریکائی دجنرالانواودیپلوماتونوپرسردرګمی باندی په تینګار سره وویل : په افغانستان اوعراق کې جګړی اودغه دوه هیوادونه تر خپل ښکیلاک لاندی راوستل یوجنایت کارانه اوغیراخلاقی کړنه ده اوهمدا اوس ددغو هیوادونو اوضاع اوحالات په یوپیچلی وضعیت کې په مسخره امیزه ډول سره ددپرووینوپه بهیدلو سره اوښتی دی .**
**"دیوید ویلسون"دائتلاف په نوم په یوانترنیتی شبکی کې په یو راپور کې ولیکل : «جګړه ودره وي» ترسرلیک لاندی دغه راپوریې خپورکړیدی ،اوددی پوښتنی په طرحه کولوسره چې په افغانستان کې څه تیریږی لیکل یې دی : انګلیسي او امریکائی جنرالان،دیپلوماتان اوسیاست پوهان خپله لاره یې ورکه کړی ده اوهغه څه چې لیدل کیږی دانګلیس سیاسی اونظامی ځواکونه کوم یوداهسی دحل لاره ایډیا نلری ،په افغانستان کې انګلیسی نظامی ځواکونه ممکن چې اوس مهال دځانه څخه دغه پوښتنه وپوښتی چې دوي دڅه دپاره په افغانستان کې دي اوپه افغانستان کې کومی چاری او کارونه په مخ کې لري چې ترسره دی کړي .**



**دی په دی هکله وایی : جنرال "دیوید ریچاردز" دانګلیستان دځواکونونوی رئیس غواړ ی چې د(۵۰۰۰) پنځو زرو نه نوردېرتره انګلیسی نظامی ځواکونه وافغانستان ته ولیږی اوسربیره دانګلیستان دمیشته(۸۰۰۰) اته زره ځواکونوپرشمیره باندی چې په افغانستان کې دی زیاتوالی دی رامنځته سی .**

**په انګلیستان کې دغه دجګړی ضد تکړه غړی په خپل رپوټ کې یې ویلی دی : دانګلیستان دځواکونو نوی رئیس په دی باور دی چې د(۲۵۰۰۰) پینځه ویشت زرونوروامریکایی ځواکونوپه استولوسره وافغانستان ته چې دامریکادفاع دوزارت لخوالیږدل کیږی،په اړه په زغرده سره باید ووایم چې دانګلیسی نظامی ځواکونو په ډېرلیږدلوسره به په افغانستان کې دانګلیسی میشته ځواکونو یوه برخه تر(۳۰۰۰۰) دیرشو زرو تنوپوری د انګلیسی سربازانوشمیرته به ورزیات سی .**

**دیوید ویلسون ددی رپوټ په یوه بله برخه کې ټینګار کوی اووایی :ویل کیږی چې په افغانستان دانګلستان سفیر "شرارد کوپر کولز" تیره میاشت ویلی وو چې په افغانستان کې دامریکا استراتیژی ماته خوری اودائتلافی ځواکونو شته والی خصوصاً نظامی شته والی په افغانستان کې دستونزویوه برخه ګڼل کیدی سی اونه دحل لاره ، دبله خواه نه ، جنرال "دیوید پترائوس" په سیمه کښې دامریکا دمرکزی ګډوځواکونوقوماندان تیره اونی ویلی وو،کیدی سی چې دطالبانوسره خبراتری دکارپه لمړی سر کې قرارونیسی .**

**ددی رپوټ لیکوونکی همدارنګه لیکی : په افغانستان کې جګړی اودغه دوه هیوادونه تر خپل ښکیلاک لاندی راوستل یوجنایت کارانه کړنه اوغیر اخلاقی کار دی اوپه دی هیوادونوکښې امنیتی وضعیت ډېره غمیزه ده او په مسخره امیزه ډول سره دډېروروینوپه بهیدلو سره اوښتی دی .**

دیوید ویلسون ددی رپوټ په یوه بله برخه کښې په ټینګار سره ویلی : ائتلافی ځواکونه دی «جګړه ودره وي» او دافغانستان اودعراق ددوهیوادونوځخه دانګلیستان دنظامی ځواکونودژرپرشاه تګ اوخپل هیوادته دبیرته ورتګ غوښتونکی سو.

**۴- یوی المانی ورځپاڼی وڅیرل :**
**په افغانستان کې دناټواوه کلنه بی ګټې جګړه،**
**اودافغانانوبی باوری پرلویدیزوالوباندی !**

**یوی المانی ورځپاڼی په اشاری سره په خپله لیکنه کې دافغانستان پرکړکیچن اوامنیتی شرایطوباندی،او ددی هیواد دخلکودباور ټیټوالی دامنیت په رامنځته کولوکې دلویدیزوالوپه وسیله ددوی دلړلیدپه وړاندی کولوسره ،اوهمدارنګه دشمالی اتلانتیک سازمان دنظامی تړون** «ناټو» اوه کلنه جګړه یې په دی هیواد کې بی ګټی وبلل .

**"زوددویچه سایتونګ" په یوه څیړنه کې په دی هکله ولیکل : دا اوه کاله کیږی چې دشمالی اتلانتیک سازمان نظامی تړون** «ناټو» په افغانستان کې ځای پرځای سوی دی اودا په داهسی حال کې دی چې دغه اوه کاله ډېره اوږده موده وه چې نورهیڅوک به دغه ډول عملیاتونه ،دسولی دماموریت تر سرلیک لاندی نه یاده وي .

**لیکوونکی په همدی ډول سره وایی : ناټودیوداهسی جګړی سره مخامخ سویدی چې حتی موږکله کله دجنرالانودخولی نه هم اوروچې وایی دغه جګړه دنظامی وسایلوسره وبری ته نه رسیږی . اما په هرصورت یوه داهسی جمله حقیقت دی .**

**لیکوونکی ددغه مطلب په یوه بله برخه کې په عملیاتونوکښې دشمالی اتلانتیک سازمان دنظامی تړون** «ناټو» بی خبری اولنډراتلل یې دطالبانودواکمن کیدوپردلیل په افغانستان کې وبلل او وی ویل : **دشمالی اتلانتیک سازمان نظامی تړون** «ناټو» نن دخپل دغه لنډراتللو نیمګړتیاوی بیرته ورکوي .

"زوددویچه سایتونګ"په همدی ډول سره څرګنده کړ: دایساف نړیوالی سمبالی ډلی ډېر لږ کولی سي چې دطالبانواودهغوی دملګروپه وړاندی دی ودریږی،مقاومت اودفاع دی وکړی.یوازی سږکال ډېرتره تر (۲۲۰) دوه سوه شل تنه بهرنی سربازان په افغانستان کې خپل ځانونه یې دلاسه ورکړیدی چې دغه شمیره ډېرتره د تیر کال ترشمیره دي .

لیکوونکی همدارنګه ددغه مطلب په بیانولو سره لیکی : دوژل سوي سربازانو ډېره برخه یې امریکائیان،انګلیسان،اوکاناډایان دي چې دافغانستان په سویلی سیموکښې دمنځه تللي دي .اوسربیره پردی هم په دغه جګړه کې ډېر غیرسلوال اوبی ګناه افغانان هم دامریکائیانو په هوایی بمباردونواویرغلونوکښې دمنځه تللی دي .

لیکوونکی ددی مطلب په ادامه په ټینګار سره وایی په دی هیوادکې چې طالبانو په خپله دغه انارشی اوګدوډوی یې ددی دپاره رامنځته کړی دی چې دوي ګټه ځینی ترلاسه کړی ،په دی هکله دی وایی : دافغانستان ډېر خلک نورپرلویدیزوالوباندی دامنیت په راوستلواوپه ټینګولو باور نلری . ددی مطلب لیکوونکی ددی لیکنۍ په یوه بله برخه کې دافغانستان د بیا روغاونی په پروسه کې دمرسته کوونکوهیوادونولږه هماهنګی په مرسته رسولوکې ،په اشاری سره ددی مطلب په هکله وایی : په دی هیواد کې دبیا روغاونی په مرستوکې دنظامی پانګی اولګښت سره په مقایسوی ډول ، مرستی ډېر لږ اوجزئی دي .

ددی لیکنۍ په پای کې راغلی دی : په کابل کې حکومت په دی پوهیږی چې په افغانستان کې دهری خونړی یرغل سره دلویدیزوالو تیاری اوامادہ ګې دعملیاتوپه ادامه ورکولو سره په دی هیوادکـــې مخ پرکښته بانـــدی ځـــې،په همـــدی ډول ســـره زیاراوهـــاندپردی باندی باســـــی ترڅودطالبانوسره خبري وکړي اوخپل پخوانی

ملګري عربستان اوپاکستان  دعمل وډګرته ور ګډ کړی . مسئله خودادی چې طالبان پوره وخت لري، اما حامد کرزی اوناټو نوروخت نه لري ./

اخځليکونه :

۱-دجام جم څخه

۲-دفارس نيوز څخه

۳-دفارس نيوز څخه

۴- دمهرنيوز څخه